AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: جیفري رابرټس
مترجم: عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۰۹/۱۶

# محمد داوود، د شوروي - افغان موافقتنامي
# او د جنګ خواته حرکت، ۱۹۵۵-۱۹۷۹
## څوارلسم فصل
### لومړۍ برخه

په ۱۹۵۴ کال کي، د مسلم لیګ ګوند په ختیځ بنګال کي په انتخاباتو کي سخته ماته وخوړه او صدراعظم محمدعلي اعلان وکړ چي ټول لوېديځ پاکستان به په یوه اداري یونیټ کي یو ځای کیږي. د یوه یونیټ پلان، چي هدف یې د بنګالیانو د زیات نفوس کمزوري کول او د پنجاب د مشرتوب دایمي کول وو، دغه راز ژمنه وکړه چي د پښتنو خودمختاري به هم کنټرول کړي. داوود خان دا پلان وغانده او وې ویل چي دا د جناح د هغي ژمني څخه سرغړونه ده چي ویل یې سرحد به هیڅ وخت له پنجاب سره نه ګډیږي او په عمومي اعلامیو کي یې له پښتو نستان سره خپل تعهد بیا تکرار کړ. د داوود خان دغه عمل، پاکستان د ۱۹۵۵ کال په مارچ کي، د یوه یونیټ د جوړولو د پلان له عملي کولو څخه منع نه کړ.

د افغانستان کابینې، په عامه، د دغه پلان د محکومولو او د داوود خان له یوه احساساتي وینا څخه وروسته، د کابل خلکو، چي زیاتره یې محصلین ول، د پاکستان پر سفارت باندي حمله وکړه، د سفارت ځینو غړو ته یې لاس واچاوه او د هغوی بیرغ یې وسوځاوه. د بیرغ د سوځولو دې پیښي دواړه هیوادونه د جنګ پولي ته ورسول. په ورپسي ورځ د پاکستان خلکو په کوټه او پېښور کي د افغانستان پر قونسلګریو باندي حملې وکړې. پاکستان، ډېر ژر، له افغانستان سره خپل سرحدونه وتړل او خپل سفیر یې له افغانستان څخه ور وباله. افغانستان خپل پوځ ته د سفر برى اعلان وکړ. په ټول اوړي او د مني تر پیل پوري سرحدي نښتي رواني وې.

د سعودي عربستان شهزاده مسی الدین عبدالرحمن او د مصر یوه ځوان ډګروال انورالسادات د مذاکراتو په نتیجه کي موضوع حل سوه. د افغانستان پوځ، د جولای د میاشتي په وروستیو شپو ورځو کي، بیرته عادي حالت ته وګرځېدی او د دواړو هیوادونو بیرغونه، د سپتمبر په میاشت کي، د خاصو مراسمو په ترځ کي، بیرته پورته سول. خو پاکستان د اکتوبر په میاشت کي د یوه یونیټ جوړولو پروګرام عملي کړ. افغانستان خپل سفیر ور وغوښت او پاکستان خپل پلان تعقیب کړ. داوود خان د نومبر په میاشت کي لویه جرګه را وبلله او هغوی اعلان وکړ چي شمال لوېدیځه صوبه به هیڅ وخت د پاکستان د خاوري په حیث ونه پیژني او حکومت ته یې واک ورکړ چي د قواوو د له منځه تللي انډول د بیرته برابرولو لپاره اقدام وکړي. دا وخت امریکا موافقه کړې وه چي کراچي ته وسلې واستوي.

د ۱۹۵۵ کال تر وروستیو شپو پوري، د هیلمند د پروژې پر سر نارضاییتونو او د امریکا له خوا د افغانستان د اقتصادي او پوځي مرستو او سیاسي ملاتړ د غوښتنو پرله پسې ردېدلو افغانستان له امریکا څخه بېل کړی وو. امریکا پاکستان او ایران ته پرله پسې مرستي ورکولي او نور یې دا پلمه هم نه سوای کولای چي په نړۍ کي د نورو مکلفیتونو د پوره کولو له امله د بودجې له کمبود سره مخامخ ده او یا د افغانستان لپاره دغه ته ورته مرستو د ورکولو لپاره د کانګریس منظورۍ ته ضرورت لري. ضمنا پاکستان ته د امریکا اقتصادي مرستو او د درنو وسلو کومکونو افغانستان د پښتونستان په مسله کي نور هم پر خپله خبره ټینګ کړ. داوود خان اقتصادي کمزوریو او له اوضاع څخه د پاکستان ګټي اخیستلو او خپل کمزوري پوځي قوت، چي حتی د داخلي ناکراریو لپاره یې کفایت نه کاوه، ډېر سخت په تنګ کړی وو او مجبور وو چي، د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره، بلي خواته مخ واړوي. داوود خان د وارډ په دسیسو خبر وو او په دې هم پوهېدی چي امریکا د ده هیواد ته هیڅ ارزښت نه ورکوي. داوود خان باید بالاخره یو تصمیم نیولی وای.

د ډسمبر په میاشت کي د شوروي اتحاد د کمونیسټ ګوند عمومي منشي نیکیتاخروسچیف او صدراعظم نیکلای بولګانین کابل ته ولاړل او داوود خان ته یې د پوځي او اقتصادي مرستو پیشنهاد وکړ. داوود خان په دې عقیده وو چي د دغو مرستو څخه را ولاړېدونکي خطرونه کنټرولولای سي او په دې هم پوهېدی چي لاس ترزني کښېنستل او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

هیڅ نه کول نور هم خطرناک دي نو یي د دوی د مرستو پیشنهادونه ومنل. دا موافقتنامه د ۱۹۵۶ کال د جنوري په میاشت کي لاسلیک سوه او افغانستان ته یي د سلو میلیونو ډالرو اقتصادي مرستو ژمنه کوله. په دې مرستو کي د اوبو د برېښنا لپاره د بندونو جوړول، صنعتي موسسې، د موادو د زخیره کولو تسهیلات، د کرني درې لویې پروژې، کابل ته نیژدې دوه عصري هوایي ډګرونه او له کابل څخه د هندوکش په غرونو کي د آمو ترسینډ پوري د یوې لویی لاري جوړول شامل وه. د شوروي دا مرسته د هغو ټولو خارجي مرستو دوه چنده وه چي مخکي افغانستان ته ورکړې سوي وې. د دې مرستي د پور شرایط هم سپک وه. اته کاله یي سود نه غوښت او د سود اندازه یي هم دوه فیصده وه او پیسې یي هم په دېرشو کالو کي په جنس غوښتلې.
د شوروي د اقتصادي فعالیتونو زیاتېدلو پر هغه هیواد باندي د افغانستان تکیه زیاته کړه او دهغه هیواد استقلال ته یي جدي خطرونه متوجه کړل. ډېره خطرناکه دا وه چي د افغانستان پوځ ډېر ژر د روزني او وسایلو لپاره پر شوروي اتحاد باندي تکیه سو. داوود خان له شوروي اتحاد سره د دې موافقي له لاسلیکولو څخه وروسته د وروستي ځل لپاره یو وار بیا له متحده ایالاتو څخه د پوځي وسایلو غوښتنه وکړه او واشنګټن بیا د داوود خان غوښتنه ونه منله. داوود خان په ۱۹۵۶ کال کي د پاکستان له مقابلې سره مخامخ سو. لویي جرګې هغه ته واک ورکړی وو چي له هره ځایه کولای سي وسلې باید ترلاسه کړي. داوود خان اعلان وکړ چي له شوروي اتحاد سره یي د وسلو د ترلاسه کولو په برخه کي موافقه لاسلیک کړې ده.
شوروي اتحاد، له ۱۹۵۵ څخه تر ۱۹۷۲ کال پوري، افغانستان ته د تقریباً نیم بیلیون ډالرو په اندازه پوځي مرستي ورکړې. په دغه موده کي د شوروي د مرستو پنځه نیوي فیصده کابل ته رسېدلي وې. شوروي اتحاد افغانستان ته راز راز وسلې او مهمات ورکړل. میګ ۱۷ جنګي الوتکي، ایل ۲۸ سپکي بمب غورځوونکي الوتکي، ټي ۳۴ ټانکونه، هاویتزر او زغره وال وسایط ټول پکښې شامل وه. دا وسلې زیاتره دوهمه او دریمه درجه وې چي افغانستان یي د رانیولو وس درلود او د داخلي امنیت د ټینګولو لپاره کافي وې. د پور تادیه کولو شرایط یي هم داسي وه چي افغانستان باید نیمایی پیسې نغدي او باقي پاته په جنس تادیه کړي وای.
د وسله والو قواوو عصري کېدلو حکومت ته د قبایلي ښورښونو تهدید کم کړ او داوود خان ته یي داسي قوه په لاس ورکړه چي د خپلو اجتماعي او اقتصادي اصلاحاتو د عملي کولو د تضمین لپاره یي ضرورت ورته درلود. داوود خان له پوځ څخه د حکومتي پالیسی د عملي کولو لپاره کار واخیست او پوځ څو ځله په ښارونو کي د خلکو ښورښونه او اعتراضونه په پوره بریالیتوب وځپل. ډېر ښه مثال یي کندهار وو چي حکومت په ۱۹۵۹ او ۱۹۶۰ کلونو کي په هغه ښار کي د خپلو مالیاتو، عسکري خدمت او د ښځو د لوڅ مخ کېدلو پر ضد د خلکو بلوا وځپله.
د پوځ قوي کېدلو د هیواد له داخلي انکشاف سره ډېره مرسته وکړه. د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ په لسیزو کي اکثر وختونه پوځ ته د اوبو د بندونو د جوړېدلو، د سړکونو او هوایي ډګرونو د جوړېدلو د څارلو او نظارت کولو وظیفه ورسپارل کېدله. د افغانستان پوځیانو ته په هیواد کي د تعلیم او تربیې په ساحه کي تر ټولو ښه امکانات برابرېدل او پوځیان په انجنیرۍ، مخابراتو، ټرانسپورټ، برېښنا او طبي ساحو کي وروزل سول. حتی هغو عسکرو ته چي په فرقو کي د زده کړې محدود امکانات برابر سول له عسکري خدمت څخه وروسته به یي د پوهې سطح تر عادي افغانانو ډېره لوړه وه. په داسي حال کي چي داوود خان داخلي تهدیدونه وځپل او هیواد ته یي د ودې کولو زمینه برابره کړه خو خپل هیواد یي د شوروي پر مرستو باندي تکیه کړ او د شوروي اتحاد د تهدید او خطر په خوله کي یي ورکړ.
افغانستان عصري پوځي وسایل ترلاسه کړل مګر د پوځیانود روزني، پالتو سامان، مهماتو، او نویو پرزو او سامانونو له درکه یي پر شوروي اتحاد باندي داسي تکیه کړ چي له نوري نړۍ سره یي د هغه هیواد اړیکي کرار کرار پای ته ورسول او د افغانستان ته یي د سیاسي انتخاب میدان، په داسي حال کي، عملاً تنګ کړ چي د دواړو هیوادونو ترمنځ لا کوم رسمي تړون هم نه وو لاسلیک سوی. خروسچیف دې حقیقت ته متوجه وو او ښایي قصداً یي افغانستان ته زیات وسایل او مهمات لېږل څو هغه هیواد نور هم شوروي اتحاد ته محتاج کړي. پر دې برسېره د لویولارو او پلونو جوړول، چي د ټن په حساب یي زور د شوروي د تر ټولو درندو ټانکونو د تېرېدلو لپاره محاسبه سوی وو، د آمو پر سیند باندي د بندر تسهیلاتو، هوایي ډګرونو، او د مصنوعي سپوږمیو له لاري د مخابراتو مرکزونو د شوروي اتحاد لپاره دا زمینه برابره کړه چي د افغانستان داخلي برخو ته لاره پیدا کړي. شوروي مربیانو د افغانستان د تقریباً ټولو افسرانو روزنه پر غاړه واخیستله او په دې توګه یي د حکومت په ترټولو مهمه برخه کي د ورانکاری کولو ځای پیدا کړ.
له افغانستان سره د شوروي مرستو بالاخره هغوی ته پر افغانستان باندي د یرغل کولو لپاره لاره هواره کړه. د ۱۹۵۰ په لسیزه کي، له شوروي اتحاد سره د داوود خان د اړیکو نتیجه د هغه د نبوغ نخښه بلل کېده. کله چي افغانستان د شوروي اتحاد د مرستو پیشنهاد ومانه نو متحده ایالاتو هم له افغانستان سره خپله علاقه کمه کړه او نور یي له افغانستان سره د مهمو او لویو مرستو کولو پرګرام پرېښود. د ایزنهاور حکومت، په افغانستان کي د شوروي اتحاد د نفوذ کولو او د هغه هیواد د خپلواکی د ساتلو په منظور، له افغانستان سره د یو شمېر داسي اقتصادي پلانونو لپاره د پیسو ورکولو پیشنهاد وکړ چي مخکي یي رد کړي وه. په افغانستان کي د امریکا شخصي پانګه اچونه هم زیاته سوه. په ورپسې لسیزه کي، شوروي او امریکایی انجنیرانو، په افغانستان کي، د یو شمېر ښاري، صنعتي، د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

اوبو په بندونو پوري مربوط، د کانونو را ایستلو، زراعتي، روغتیايي، تربیوي او مخابراتي موسسو کي کارونه وکړل او د داوود خان رژیم د خپل کار له نتیجي څخه ډېر خوشاله وو. د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ په لسیزو کي، افغانستان د نړی یوازینی هیواد وو چي شوروي اتحاد او متحده ایالاتو دواړو په انکشافي پروژو کي همکاري او ، په ځینو وختونو کي، حتی ګډ کار کاوه.
شوروي اتحاد، د اقتصاد په ساحه کي، په ډېرو ځایونو کي پر لوېدیځو هیوادونو باندي برلاسی درلود. تر ټولو مهمه دا وه چي د شوروي مالونه ډېر ارزانه وه. که څه هم چي د لوېدیځ ساخت مالونو کیفیت ډېر ښه وو مګر په نېستمن هیواد افغانستان کي د شوروي مالونو هم په هغه ډول کار ورکاوه. دغه راز د افغانستان مالونه، چي په زیاترو یي په غرب کي ریشخند وهل کېدی، د شوروي په بازارونو کي ښه استقبالېدل. له بلي خوا افغانستان شوروي اتحاد ته ډېر نیژدې وو او د افغانستان د ملکي ټرانسپورټ لپاره د موادو حمل او نقل آسان وو او شوروي اتحاد د اوږدې مودې پورونه هم د سود له پلوه ارزانه او هم د افغانستان د مالونو په بدل کي ورکول. د شوروي سلاکاران او تخنیکران هم په ارزانه بیه استخدامېدل او په ارزان بیه کورونو کي يي ژوند کاوه او له خلکو سره يي تر امریکایانو ډېر ساده سلوک کاوه. او بالاخره، شوروي کارکوونکي له ډیموکراسی او آزادی سره بلد نه وه او چي هر ډول امر ورته کېدی هغسي کار يي کاوه. کارونه يي ځکه ښه او چټک پر مخ تلل چي چا د میرزایي او کاغذ پراني واک او اجازه نه درلوده.
بلي خواته امریکایانو د ژوند کولو داسي معیارونه درلودل چي له افغانانو سره يي د هغوی د ژوند کولو او تماس ساتلو مخه نیوله او د هري پروژې د اقتصادي نتایجو په باب يي دونه دقیقه او هر اړخیزه څېړنه کوله چي د کار د ځنډېدلو علت به سو. امریکایي پروګرامونو خصوصي سکټور له نظره غورځولی وو او د افغانستان له شرایطو سره يي د پروژو برابرولو ډېر زیات وخت ورڅخه ونیوی او له دغه درکه دوی هم د شوروي پرژو په نسبت له نظره لوېدلي پاته سول او نفوذ يي تر هغوی لږ وو. د نویو امریکایي پروژو تر ټولو څرګند مثال د کندهار بین المللی هوايي ډګر وو، چي کارونه يي دومره په کراره مخته تلل او دومره میرزايي او کاغذ پراني پکښي وسوه چي افغانان يي تر پزي ورسول. پوځي ملاحظاتو د کندهار په دغه پروژه کي ډېل رول ولوباوه. دا چي امریکایانو دا پروژه د افغانستان په داخلي امنیت کي د شورویانو د نفوذ د زیاتېدلو او د شوروي له خوا د افغانستان د ملي هوايي شرکت د جوړولو د مخنیوي لپاره طرح کړه او که د امریکایانو هدف دا وو چي دلته د بمب غورځوونکو الوتکو لپاره داسي اډه جوړه کړي چي د شمال قطب ته ورسېدلای سي، دا خبره څرګنده نه سوه. د دې پروژې لپاره بودیجه په ۱۹۵۶ کال کي منظوره سوه، قرارداد په ۱۹۵۷ کي لاسلیک سو او کار په ۱۹۵۸ کي پیل سو او هوايي ډګر بالاخره په ۱۹۶۲ کال کي پرانیستل سو.کله چي د هوايي ډګر کار پای ته ورسېدی، مسافروړونکي جیټ الوتکي میدان ته سوې چي په دغه هوايي ډګر کي يي، په لار کي، کښته کېدل بي ضرورته کړه. دا هوايي ډګر د ۱۹۸۰ تر لسیزي پوري، چي شورویانو د مجاهدینو په مقابل کي کار ورڅخه واخیست، همداسي بي ګټي پاته سو.
د هیلمند پروژې چي کله په کار پیل وکړ نو تر هغه چي انتظار يي ایستل کېدی لږ حاصل يي ورکړ. حتی د ښوونې او روزني په سستم کي د امریکایانو د نفوذ کولو کوښښونو هم تر هغه چي فکر يي کېدی کمه نتیجه ورکړه. که څه هم په زرګونو افغانان چي په متحده ایالاتو کي يي تحصیل پای ته رساوه له ښې پوهي او فوق العاده مهارتونو سره هیواد ته ستانه سول خو د ۱۹۶۰ په لسیزه کي د امریکا په پوهنتونونو داسي خطرناک حالات روان وه چي ځیني افغانان د متحده ایالاتو او لوېدیځو هیوادونو او له خپل حکومت سره مخالف سول. د مثال په ډول حفیظ الله امین، د کولومبیا او ویس کانسن په پوهنتونونو کي د تحصیل په وخت کي له مارکسیزم سره بلد سو او علاقه يي ورسره پیدا کړه.
متحده ایالاتو پر اقتصادي همکاریو برسېره، تر ۱۹۵۹ کال پوري دا منلي وه چي د افغانستان په پوځي قواوو کي د شوروي اتحاد دغلبي خطر موجود دی او کوښښ يي وکړ چي افغانستان دې ته تشویق کړي چي په خپل پوځ او پوځي مهماتو کي پر کمونیسټ بلاک باندي تکیه کمه کړي او د پوځیانو د روزلو لپاره له متحده ایالاتواو د آزادي نړی له نورو هیوادونو څخه مرسته وغواړي. تر ۱۹۶۵ کال پوري د افغانستان د پوځ ۱۴۷ صاحب منصبان، چي ۶۱ يي د پوځ او ۸۶ يي د هوايي قوې وه، په متحده ایالاتو کي وروزل سول. د امریکا په پروګرامونو کي افغانانو ته تخنیکي روزنه ورکول کېده او دغه راز يي مدني مسوولیتونو ته متوجه کول او د پوځ او ملکیانو د اړیکو په برخه کي يي ښوونه ورکول، دغه راز يي د اقتصادي ودي د ملاتړ او په عمومي توګه د ډیموکراسی د ارزښتونو په برخه کي روزل. د مرستي دا ټول پروګرام یوازي درې عشاریه درې میلیونه ډالره تمام سو چي ډېري زیاتي پیسي يي په حمل و نقل او د صاحب منصبانو په تنخواوو ولګېدې. عملا ټول درانه وسایل او ټولي الوتکي د شوروي اتحاد له خوا تهیه کېدلي. پر دې برسېره هغه صاحب منصبان چي په متحده ایالاتو کي روزل کېدل د افغانستان د ټولو صاحب منصبانو او پوځي تاسیساتو ډېره لږه برخه وه. په نتیجه کي د امریکا د دې پروګرام اغېزه ډېره محدوده پاته سوه.
که څه هم چي داوود خان په ختیځه اروپا کي د شوروي اتحاد په پخوانیو کارونو خبر وو او یو وخت يي یوه امریکایي خبریال ته وویل چي تاسي فکر کوی موږ د چکوسلواکیا په باره کي هیڅ اورېدلي نه دي؟ داوود خان پوهېدی چي شورویانو غوښتل د جنګ څخه وروسته کلونو کي په ایران کي خپل یو ګوډاګی رژیم قدرت ته ورسوي. داوود خان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په څیر و لولئ

په دې عقيده وو چي دی کولای سي په پوځ کي د ورانکاری مخه ونيسي او د افغانستان خپلواکي وساتي. ده فکر کاوه چي د ده هيواد به هم، د فينلينډ په څېر، پرته له دې چي خپله آزادي له لاسه ورکړي، د شوروي له مرستو څخه ګټه واخلي. کله چي سړی له پوځ سره د داوود خان شخصي اړيکي، د پوليسو فعاليتونه، د طبقاتي تضاد نسته والی، او په افغانستان کي د کمونيسټ ګوند نه موجوديت په نظر کي ونيسي نو په افغانستان کي د ورانکاری احتمال چنداني نه ليده کېدی او د شوروي سره د اړيکو ټينګولو خطر په منلو ارزېدی.

داوود خان په پوځ کي د کمونيسټانو د نفوذ د مخنيوي لپاره ډېر زيات احتياطي اقدامات وکړل او همدې احتياطي اقداماتو په راتلونکې مشروطه دوره کي هم داوم وکړ. ده په جرمني کي، د پوليسو، روزل سويو افسرانو ته وظيفه ورکړه چي د ټولو شوروي تخنيکرانو حرکات تر سختي څارني لاندي ونيسي او دغه راز د هغو داخلي سازمانونو اعمال وڅاري چي چپی افکار او تمايلات لري. داوود خان پرله پسې شوروي تخنيکران تبديلول او چنداني يې د هغه روسي کارکونکي، چي د کار دوره به يې پوره سوې وه، قرارداد نه نوی کاوه. داوود خان دغه راز کوښښ وکړ چي پوځي افسران او د هوايی قوې صاحب منصبان له سياسي افکارو څخه ګوښه وساتي. ده هر وخت هغه صاحب منصبان چي سياسي عقايد يې درلودل برطرفه کول او هيڅ صاحب منصب ته يې اجازه نه ورکوله چي ځان د کوم انتخابي مقام لپاره کانديد کړي. د کودتا د مخنيوي لپاره يې د احتياطي اقدام په توګه، د واکمنو کورنيو غړي او خپل شخصي ملګري او دوستان پر ډيرو لوړو چوکيو باندي مقرر کړل. عسکري قطعات له کليو او ښارونو څخه ليري ځای پر ځای کېدل څو صاحب منصبان له هيڅ محلي ښورښ سره ارتباط ټينګ نه کړای سي. داوود خان ټولو هغو پوځي او ملکي کسانو ته، چي په شوروي کي روزل کېدل، بدبيني ښکاره کوله او هغوی يې پر حساسو ځايونو باندي نه مقررول او معمولا به يې کښته چوکۍ ورکولې.

شوروي اتحاد د ۱۹۶۰ په لسيزه کي له افغانستان سره د موټرونو د ترميمولو په کارخانو، په قوطيو کي د مېوو د اچولو او ساتلو له فابريکو او د هيندارو جوړلو په کارخانو کي مرستي کولې او د تېلو او طبيعي ګاز د پلټنو مسووليت يې اخيستی وو. شورويانو د دغو همکاريو پر ګټو او مرستو زياتولو باندي ټينګار کاوه او هيڅکله يې ايډيالوژيکي او د مذهب ضد تبليغات نه کول. اکثرو افغانانو چي د دوی دغه راز عمل ته کتل او له بلي خو په خپلو امنيتي ادارو باوري وه نو هر وخت به يې دا متل استعمالاوه چي « کله پر ښه آس سپور يې نو دا پوښتنه مه کوه چي هغه چيري زېږېدلی دی » مګر يو څارونکی چي په هغه وخت کي هلته حاضر وو وايي « د هيڅ شي مخه نه سوای نيول کېدلای. د وخت په تېرېدو سره، شوروي پلوه پنځم ستون، کرار کرار زور واخيست. »

داوود خان د پښتو نستان پر مسلې باندي دونه ټينګار وکړ چي وظيفه يې له لاسه ورکړه. په ۱۹۶۱ کال کي يوه سلسله سرحدي نښتي وسوې او پاکستان پر افغانستان باندي اقتصادي محاصره ولګوله او له هغه هيواد سره يې د مالونو تګ راتګ بند کړ. او په دوولسو کالو کي يې د دريم ځل لپاره د هغه هيواد اقتصاد په بشپړه توګه مختل کړ. هغو تاوانونو چي په دې دوه کلنه محاصره کي افغانستان ته ورسېدل، ظاهرشاه دې ته مجبور کړ چي له داوود خان څخه د استعفی غوښتنه وکړي او هغه هم د ۱۹۶۳ کال په مارچ کي استعفی وکړه.

پاچا د ۱۹۶۴ کال د اکتوبر په مياشت کي نوی اساسي قانون منظور کړ. په دې قانون کي د غربي ډيموکراسيو په څېر مواد شامل وه. دولتي قوتونه يې سره بېلول، انتخابات يې په سِرِي رايه ګيريو ذکر کړي وه، په محکمه کي يې د دفاع کولو حق منظور کړی وو او مطبوعاتو ته يې آزادي ورکړې وه. پارلمان يې منځته راوړچي له دوو جرګو څخه جوړ سوی وو. د مشرانو جرګې ۸۴ غړي درلودل چي دريمه برخه يې د شاه له خوا ټاکل کېدل يعني انتصابي وه او نور يې انتخابېدل. بله يې اولسي جرګه وه چي ۲۱۵ غړي يې درلودل او ټول يې انتخابي وه. البته په اساسي قانون کي داسي نيمګړتياوي موجودي وې چي د حکومت لپاره يې کار ډېر مشکل کاوه.

که په اساسي قانون کي ګوندونه قانوني سوي وای، چي په افغانستان کي په عنعنوي توګه غيرقانوني وه، نو صدراعظم او کابينې کولای سوای چي د پارلمان د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره خپله پاليسي عيار کړي. خو داسي ونه سوه بلکه پارلمان او اجراييه قوه تر پايه سره ښکر په ښکر وه. که څه هم چي وزيران معمولا ډېر رسېدلي او په حکومت کولو کي د تجربې خاوندان ول خو پارلمان هيڅ نرمښت ونه ښود او له خپل دريځ څخه نه تېرېدی. پارلمان، په تېره بيا، له ۱۹۶۹ کال څخه تر ۱۹۷۳ کال پوري هڅ ډول نرمښت ونه ښود. د پارلمان وکيلانو د حکومت په مقابل کي هيڅ ډول هماهنګي او انضباط ونه ښود او چي حکومت هر څه ويل دوی مخالفت ورسره کاوه. د مثال په ډول له ۱۹۶۹ کال څخه تر ۱۹۷۰ کال پوري يې يوازې يوه کوچنی مسله تصويب کړه. د کښتني رتبې مامورينو هم وخت په بېکارۍ تېراوه او اداري فساد ته يې لاس اچولی وو.

نور بيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ